# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۲٦مه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۱٦مه | ٦۲۹مه گڼه


## ولایت

۴ مخ

### اروزگان

د زده کړو په برخه کې د هېواد د ځینو نورو ولایتونو په څېر په دې ولایت کې هم د پام وړ پرمختگ نه دی شوی؛ خو په دې وروستیو دریو- څلورو کلونو کې دا بهیر یو څه چټک شوی دی.



## پر افغان خاوره د پاکستان او هند د نیابتي جگړې اور؛

### بهرنیو چارو وزارت: د پاکستان ادعا بې بنسټه ده، هېڅوک زموږ خاوره د گاونډیو پر ضد نه شي کارولی



۳

افغانستان لا هم په پاکستاني او هندي اور کې سوځېږي

۲ مخ


د امریکا د ولسمشریزو ټاکنو پایلې او پر افغان سوله يې اغېز

۲ مخ

د نومبر ۱۱مه او په چین کې د انلاین سوداگرۍ فیستیوال

۳ مخ

## کرنې وزارت: روان کال په ختیځو ولایتونو کې د لیمو او مالټې ۱۱۰ جریبه بڼونه جوړ شوي



کرنې او مالدارۍ وزارت وايي چې د وروستي يو کال په ترڅ کې يې د ننگرهار، لغمان او کونړ په ولایتونو کې د لیمو او مالټې ۱۱۰ جریبه بڼونه جوړ کړي دي.

د یاد وزارت په خبره، دغه بڼونه چې ۲۲ جریبه يې د مالټې او ۸۸ جریبه يې د لیمو بڼونه دي، د کرنې وزارت د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا پروژې له خوا د پنځه میلیونه او ۲۱۰ زره او ۸۰۰ افغانیو په لگښت د ننگرهار په کامې، د لغمان په مهترلام او د کونړ ولایت په کوز کونړ او خاص کونړ کې ۴٦بڼوالو لپاره جوړ شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې وړمه ورځ د ننگرهار د کرنې او مالدارۍ ریاست مسوولینو هم ویل چې په دغه ولایت کې د تېره کال په پرتله د ستروسو په حاصلاتو کې پنځه سلنه ډېروالی راغلی دی.

## مېلر: له القاعده ډلې سره مو جگړه لاهم پای ته نه ده رسېدلې

د امریکا د دفاع وزارت سرپرست کریسټوفر مېلر د دغه هېواد وسله والو ځواکونو ته په خپل لومړي پیغام کې ویلي چې له القاعدې ډلې سره جگړه پای ته نه ده رسېدلې.

هغه زیاته کړې: «په داسې حال کې چې موږ د راتلونکي لپاره چمتووالی نیسو، د هغې جگړې ختمولو ته هوډمن یو چې په ۲۰۰۱ ز کال کې القاعدې ډلې زموږ تر پولو راوړه. دغه جگړه لا ختمه شوې نه ده.»

نوموړي ویلي: «موږ د القاعدې او د دې ډلې د ملاتړو ماتولو ته نږدې شوي یو، خو باید د جگړې پای ته د پام نه کولو په څېر له خپلو پخوانیو تېروتنو څخه ځانونه وساتو.»

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د روان کال په اکتوبر میاشت کې په یو ټویټ کې لیکلي وو: «باید زموږ هغه پاتې زړور سرتېري تر کرېسمېس پورې بېرته را ستانه شي چې په افغانستان کې پر دنده بوخت دي.»

د امریکا د دفاع نوي سرپرست وزیر په داسې حال کې له القاعدې سره د جگړې د دوام خبره کوي، چې په دې وروستیو کې په افغانستان کې د ملي امنیتي ځواکونو له خوا دالقاعدې ډلې درې مهم لوړ پوړي مشران وژل شوي دي. ملگرو ملتونو او افغان حکومت ویلي، القاعده اوس هم په افغانستان کې له طالبانو سره نږدې اړیکې لري، خو طالبانو دا ادعا رد کړې ده.

## کورنیو چارو وزارت: په تېره نږدې یوه میاشت کې ۴۲۳ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې



۵ مخ

## ایران: خروج غیرمسؤلانهٔ نیروهای امریکایی خیانت به منافع افغانستان است




رسول موسوی، مدیر عمومی بخش آسیای غربی وزارت امور خارجه ایران می گوید که خروج غیرمسؤلانه نیروهای امریکایی از افغانستان، خیانت به منافع ملي این کشور است.

رسول موسوی در گفت‌وگو با روزنامهٔ اعتماد ایران می‌افزاید که امریکایی‌ها پس از بیست سال، نباید نهادهایی را که قرار بود به وجود بیاورند، تسلیم گروهٔ مخالف دولت بکنند. این دیپلومات ایرانی، تأکید دارد که گفت‌وگو با طالبان یک نیاز است؛ اما تهران از ساختار جمهوری اسلامی افغانستان در برابر امارت اسلامی پشتیبانی می‌کند. به گفتهٔ او تهران در بخش‌های مرزی با طالبان همکاری‌های امنیتی دارد.

او می‌افزاید که هدف امریکا تغییر رژیم در افغانستان است: «امریکاییﻫا باید به مسؤلیت خود عمل کنند، نه اینکه کشوري را بیست سال اشغال کنند و نه تنها نهادهای مختلفی را که قرار بود به وجود بیاورند، ایجاد نکنند، بلکه همه آن‌ها را تسلیم اپوزیسیون آن دولت هم بکنند. این نه تنها خروج مسؤولانه نیست، بلکه خیانت به منافع ملي يك كشور است.»

این اظهارات در حالی صورت می‌گیرد که پیش از این دونالد ترمپ، رئیس‌جمهور امریکا گفته بود که نیروهای امریکا را تا کریسمیس از افغانستان بیرون خواهد کرد. خروج نیروهای امریکایی از افغانستان در حالی آغاز شده‌است که نبردها در کشور شدت گرفته‌اند.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

### افغانستان لا هم په پاکستاني او هندي اور کې سوځېږي

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان د پوځ هغه ادعاوې رد کړې چې گواکې د افغانستان خاوره د هند پر ضد کارول کېږي. د پاکستان د پوځ ویاند بابر افتخار وړمه ورځ ادعا کړې وه چې هند هغه ډلې پالي چې په پاکستان کې ترهگریز بریدونه کوي. نوموړي ویلي وو چې د دغو ډلو طراح د هندي استخباراتو یو ډگروال «راجیش» دی چې په کابل کې د هند په سفارت کې کار کوي. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت بیا وایي چې افغانستان د ترهگرۍ قرباني دی او چاته اجازه نه ورکوي چې خاوره یې د بل چا پر ضد وکارول شي. بهرنیو چارو وزارت د پاکستان تورونه بې بنسټه او ناسم گڼلي دي. دا تورونه په داسې مهال را پورته کېږي چې د پاکستان لومړی وزیر د همدې اونۍ په پای کې کابل ته را روان دی او دلته به له افغان چارواکو سره پر افغان سوله او دوو اړخیزو خبرو بحث او خبرې اترې کوي.

د افغانستان په روانه جگړه کې هند او پاکستان مخامخ ښکېل دي او موږ لا هم په هندي او پاکستاني اور کې سوځېږو. که پاکستان د طالبانو ملاتړ کاوه، هند بیا د حکومت او ځینو ډلو ټپلو ملاتړ کاوه چې د افغانستان د بربادۍ برخه دي. اوس هم پاکستان له امریکا سره د افغانستان پر سر معامله کړې او د سولې په پروسه کې پوره ښکېل دی، خو هند بیا په ټول توان د سولې مخالفت کوي. هند نه یوازې دا چې خپل لاسپوځي سیاستوال او حکومتي زور کاروي، بلکې آن د مېلشو پر جوړولو او گڼو نورو چارو کې ښکېل دی. له بده مرغه موږ لا هم د هندي او پاکستاني گټو لپاره یو بل ته وسله نیولې او خپل ورور د پردیو د گټو لپاره وژنو. همدا اوس کورنیو چارو وزارت ادعا کړې چې د هلمند په جگړه کې ۱۵۲ پاکستاني جنگیالي وژل شوي. دا سمه ده چې په دې شمېره کې به مبالغه وي، خو پاکستان افغانستان ته لا هم وسلې، ځانمرگي او جنگیالي لېږي او دا څرگند حقیقت دی. همداسې هند او په هند پورې تړلي سیاستوال او ډلې په ټول توان په تخریبي فعالیتونو او مرموزو وژنو کې ښکېل دي چې د سولې پروسه تخریب کړي. زموږ د ډېرې سیاستوالو سیاسي قبله لا هم اسلام آباد او ډیلی دي. ځینې یې پر پاکستاني سیرومو چلېږي او ځینې یې بیا پر هندي سیرومو گرم دي.

د حکومت په لوري کې د هند تصویر څکه مثبت و چې له حکومت سره یې ظاهراً مرسته کوله او د طالبانو په سیمو کې د پاکستان تصویر څکه مثبت و چې له طالبانو سره یې مرسته کوله، خو واقعیت دا دی چې نه پاکستاني چارواکو د افغانستان خیر غوښت او نه هم هندي. پاکستان د خپلو گټو لپاره جگړه گرمه ساتله او هند هم هڅه کوله چې په دې جگړه کې پاکستان همداسې ښکېل وي، څو کمزوری شي او پاکستان ته د نا امنۍ د لېږد زمینه برابره شي. له همدې امله دواړو هېوادونو زموږ خاوره، وینه او سرونه د خپلو شومو موخو لپاره کارول او اوس هم همدا لوبه روانه ده.

اوس د دې وخت دی چې زموږ سیاستوال سترگې پرانیزي، پر خپل ځان پاکستاني او هندي سیروم بند کړي، خپله سیاسي قبله سمه کړي او د هندي او پاکستاني گټو پر ځای د خپلو خلکو او هېواد د گټو، عزت او سرلوړۍ په اړه فکر او کار وکړي. اوس وخت دی چې موږ خپله خاروه د پاکستاني او هندي گټو لپاره له روانې جگړې وساتو او خپل ورور د وژلو پر ځای په غېږ کې ونیسو او خپله ستونزه حل کړو.

# د امریکا د ولسمشریزو ټاکنو پایلې او پر افغان سوله یې اغېز

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د نومبر په دریمه نېټه په امریکا کې ولسمشریزې ټاکنې په داسې حال کې تر سره شوې، چې لا هم د ټاکنو پایلې د دولس ورځو پر تېرېدو سربېره هم په رسمي توگه نه دي اعلان شوې. که څه هم د لومړنیو شمېرو له مخې لیدل کېږي چې د ډیموکرات گوند کاندید جو بایډن له خپل سیال ولسمشر ډونالډ ټرمپ زیاتې رایې تر لاسه کړې دي، خو ولسمشر ټرمپ بیا د پایلو نه منلو گواښ کوي چې گواکې په لویه کچه درغلي شوې ده او په دې توگه د ټاکنو د پایلو پر سر دا جنجالونه په داسې حال کې روان دي، چې لا هم په ځینو ځایونو کې د رایو شمېرنه روانه ده او د ټاکنو وروستۍ پایله نه ده اعلان شوې. دا چې د امریکا ولسمشریزې ټاکنې چې جو بایډن پکې بریالی ښکاري، پر افغان سوله به څه اغېز ولري؟ په دې تحلیل کې مو پرې شننه کړې ده.

**ټرمپ او بایډن**

د ۲۰۲۰ کال ولسمشریزو ټاکنو کې له جمهوریت پال گوند څخه ولسمشر ټرمپ او له ډیموکرات گوند څخه جو بایډن د مخکښو کاندیدانو په توگه تر ټولو یوه داسې سخته ټاکنیزه سیالي تر سره کړه، چې د بریالي کاندید اټکل یې د سیاسي تحلیل گرانو لپاره ناشونی کړی و. په یادو ټاکنو کې ۶۵ سلنه هغو امریکایي وگړو گډون درلود چې د رایې ورکولو حق یې درلود او دا له ۱۹۰۰ کال وروسته په ټاکنو کې تر ټولو په لویه کچه گډون و.

په امریکا کې د بېکارۍ کچې زیاتېدل، کرونا وایروس بابیزه گڼل، د نړۍ له نورو هېوادونو سره سوداگري او د (America First) یا د (لومړی امریکا) پالیسي ښایي د ډونالډ ټرمپ لپاره هغه ستونزې وې، چې د ډېریو امریکایانو رایې یې د جو بایډن په گټه وکارولې. کرونا وایروس له ۲۴۲ زره زیات امریکایي وگړي ووژل او تر دې چې د نومبر په دویمه نېټه په خپله ولسمشر ټرمپ او د هغې مېرمن پر یاد وایروس په داسې حال کې اخته شول، چې له دې وړاندې ولسمشر ټرمپ کرونا وایروس یو عادي وایروس گڼلی و. د (ABC News) په یوه شمېرنه کې ۷۲ سلنه امریکایي وگړو انگېرلې وه چې ښاغلي ټرمپ کرونا وایروس د جدي موضوع په توگه نه دی نیولی. بله ستونزه د (America First) پالیسي وه چې امریکا یې له نورې نړۍ څخه لرې کړه او د نړۍ په کچه یې د امریکا نوم ته پراخ زیان ورساوه. جو بایډن د خپل ټاکنیز کمپاین په وخت کې دا په ډاگه کړې وه چې نوموړی به له دې پالیسي څخه تېرېږي او د نړۍ د نورو هېوادونو تر څنگ به د امریکا له ملاتړو هېوادونو سره خپلې اړیکې نورې هم نږدې کوي.

ولسمشر ټرمپ ادعا کوي چې په ټاکنو کې په پراخه کچه درغلي شوې او نوموړی څرگندوي چې د رایو شمېرلو له سیستم څخه هغه ۲.۷ میلیونه رایې چې د نوموړي په گټه کارول شوې وې، پاکې شوې دي. د نومبر په ۱۴مه د کرونا وایروس په اړه یوه خبري کنفرانس ته ټرمپ څرگنده کړه، چې راتلونکې اداره به د کرونا وایروس په برخه کې کوم ډول گامونه پورته کوي، د راتلونکې ادارې په تړاو د ټرمپ څرگندونې ښیي چې ښاغلی ټرمپ په ضمني توگه ماتې منې؛ خو بلخوا د ټاکنیز سیستم او سایبرسیکیورټي ادارو په وینا، د امریکا په تاریخ کې تر ټولو ښې او شفافې ټاکنې تر سره شوې دي او د ښاغلي ټرمپ ټولې ادعاوې ردوي.

**بایډن د امریکا او نړۍ لپاره**

د ښاغلي بایډن لپاره به په داخل د امریکا کې تر ټولو سخته ننگونه له کوویډ-۱۹ سره مبارزه وي، چې تر دې مهاله شاوخوا ۱۰.۷ میلیونه امریکایان پرې اخته شوي دي. له دې پرته د بېکارۍ کچې راښکته کول به بله هغه ستونزه وي چې د کرونا وایروس له زیاتېدو سره د ښاغلي بایډن لپاره بله ننگونه جوړولی شي.

په بهرني سیاست کې ښاغلي بایډن په ډاگه کړې چې د پاریس اقلیم بدلون له هغې هوکړې سره به یو ځای شي، چې د ښاغلي ټرمپ د واکمنۍ پر مهال ترې امریکا وتلې وه، چې د نړۍ د اقلیمي بدلون په برخه کې یو ښه پرمختگ کېدلی شي.

جو بایډن چې له ایران سره د ښاغلي ټرمپ پر سیاست یې نیوکه درلوده، د ټاکنیز کمپاین پر مهال په ډاگه کړې چې نوموړی به له ایران سره د ۲۰۱۵ کال اټومي هوکړې ته بېرته ورستون شي. د نوموړي په آند، پخواني ولسمشر ټرمپ پر ایران ناوړه فشار وارد کړی و او نوموړی غواړي په یوې داسې ستراتیژۍ کار وکړي چې په منځنۍ ختیځ کې د امریکا گټې خوندي کړي.

د ایران ولسمشر حسن روحاني بیا د نویو ټاکنو پایلو ته خوښي ښودلې او هیله یې څرگنده کړې چې په امریکا کې نوی دولت به له شته فرصتونو څخه د تېرو تېروتنو د جبران لپاره ښه گټه پورته کړي. مگر د ایران لپاره د امریکا دغه شین څراغ ښايي د عرب هېوادونو د ناخوښۍ سبب وگرځي، چې دا کار بیا د سیمې د امنیت لپاره ښايي بدې پایلې ولري.

د کشمیر موضوع چې د پاکستان او هند تر منځ له اوږدې مودې راهیسې جنجالي موضوع ده او ټرمپ یې په اړه د منځگړیتوب څرگندونې درلودې، بایډن بیا څرگنده کړې چې هلته پر لړکیو ظلم روان دی او د یادې ستونزې حل کولو په برخه کې به کار کوي. همدا لامل دی چې پاکستاني چارواکي د بایډن له راتگ سره هیله مندي ښیي او د هغوی په آند، پاکستان به هڅه وکړي څو د امریکا د نوې اداري ملاتړ د کشمیر په موضوع کې تر لاسه کړي.

په بهرني سیاست کې به د ښاغلي بایډن لپاره له چین سره د سیاسي او سوداگریزو اړیکو رغول لویه ستونزه او ننگونه وي. که څه هم د چین حکومت د نورو هېوادونو په پرتله له اوږده ځنډ وروسته د بایډن اټکلي بریا ته په کتو نوموړي ته مبارکي ویلې ده.

د روسیې حکومت بیا تر دې مهاله هیڅ کوم کاندید ته د مبارکۍ پیغام نه دی لېږلی او ټینگار کوي چې رسمي پایلو ته دې انتظار وویستل شي. دا په داسې حال کې ده چې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین لومړنی کس و چې په ۲۰۱۶ کال کې یې د ولسمشر ټرمپ د بریا پر مهال هغه ته د مبارکۍ پیغام استولی و او بایډن موده وړاندې پر روسیې تور لگولی و چې تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې یې لاسوهنه کړې وه. د روسیې او امریکا اټکل شوې نوې اداري چې بایډن به یې مشري کوي، تر منځ دغه واټن کولی شي د دواړو هېوادونو اړیکو او د سیمې روان وضعیت لپاره یو ښه خبر ونه اوسي.

**بایډن د افغانستان لپاره**

بایډن چې له ۲۰۰۹ تر ۲۰۱۷ کال پورې د ولسمشر اوباما د ولسمشرۍ پر مهال د امریکا مرستیال ولسمشر پاتې شوی، د افغانستان د حالاتو په اړه له نږدې معلومات لري او د افغانستان مختلفو سیمو ته یې سفرونه کړي دي. د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱مې له پېښو وروسته امریکا د جو بایډن د مرستیالي ولسمشرۍ پر مهال پر افغانستان او عراق باندې حملې وکړې. په داسې حال کې چې پر عراق له حملې کولو سره ښاغلي بایډن خپل مخالفت څرگند کړی و.

په ۲۰۱۲ کال کې له CNN سره په یوه ځانگړې مرکه کې بایډن ویلي وو چې امریکا باید له افغانستان څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې خپل ټول فوځیان وباسي. د نوموړي په آند، امریکا یوازې د القاعدې مرکزیت ختمولو لپاره پر افغانستان حمله وکړه او دا چې هلته القاعده ځواک تر ډېره کمزوری شوی، نو د افغانستان امنیت د افغان ځواکونو مسوولیت دی او امریکا نوره نه غواړي چې هلته پاتې شي. مگر یوازې د دې لپاره چې د امریکا پر وړاندې د تهدیدونو مخنیوی وشي او امریکا به له پاکستان سره د تروریزم پر ضد ځواک جوړولو کې مرسته کوي. نوموړي له دې وړاندې هم څرگنده کړې وه چې افغانستان به پاکستان ته سپاري چې دې خبرې د افغان ولس سخت غبرگونونه هم راوپارول.

له دې وړاندې بایډن په ۲۰۱۱ کال کې پخواني ولسمشر حامد کرزي ته ویلي وو چې پاکستان امریکا ته له افغانستان څخه ۵۰ سلنه زیات ارزښت لري او ښاغلي کرزي ته یې په ډاگه کړې وه، چې ستاسو لپاره د ښ طلايي دوره پای ته رسېدلې او طالبان ستاسو خپله او القاعده بیا زموږ خپله ستونزه ده. د افغانستان په اړه د بایډن څرگندونې ښیي چې امریکا په افغانستان کې د یو ښه سیستم ملاتړې نه ده.

د افغانستان په اړه د جو بایډن پخوانیو څرگندونو ته په کتو، ښايي د امنیت ښه کېدو په برخه کې افغان ولس د پام وړ پرمختگ ونهویني او د مرگ ژوبلې روانه لړۍ به په همدې بڼه دوام پیدا کړي. بلخوا ولسمشر محمد اشرف غني د بایډن د بریا مبارکۍ په لړ کې هیله څرگنده کړې چې امریکا او افغانستان به ستراتیژیکو همکاریو ته دوام ورکړي.

**د دوحې تړون او بایډن**

د دوحې تړون چې د ښاغلي ټرمپ د واکمنۍ پر مهال لاسلیک شو، د افغانستان په اړه د بایډن څرگندونو ته په کتو ښايي د افغان ولس لپاره د یو ښه پرمختگ په توگه ثابت نه شي. افغان طالبانو بیا د امریکا د ټاکنو په اړه ویلي چې دا بدلون د امریکا داخلي موضوع ده او له نوي امریکایي حکومت یې غوښتنه کړې چې د دوحې هوکړې ته ځکه ژمن پاتې شي، چې ځینې کړۍ چې شخصي گټې یې په روانه جگړه کې نغښتې دي، دا جگړه اوږدول غواړي چې پایلې د امریکا لپاره په زیان دي.

بلخوا د ولسمشر غني دویم مرستیال سرور دانش بیا ویلي چې د امریکا نوی حکومت دې د سولې هوکړې په اړه له سره غور وکړي څو پر طالبانو فشار راوړل شي چې د تاوتریخوالي کچه کمه کړي.

د ښاغلي دانش له خبرو وروسته هرات امنیتي کنفرانس ته د ولسمشر غني لومړي مرستیال امرالله صالح څرگنده کړه، چې افغان حکومت د دوحې تړون ځکه په رسمیت نه پېژني چې له یاد تړون وروسته له نړیوالې ټولنې سره په همغږۍ افغان حکومت پنځه زره طالب بندیان خوشې کړل؛ خو لا هم په هېواد کې تاوتریخوالی دوام لري.

د طالبانو او افغان حکومت لخوا د بین الافغاني خبرو اترو پر مهال دغه ډول څرگندونې امریکا ته په ډېره آسانۍ فرصت په لاس ورکوي، چې هر وخت وغواړي سیمه کې خپلو ملي گټو ته په کتو د دوحې له تړون څخه گټه پورته کړي.

امریکایي فوځي مشران بیا په دې باور دي چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل چې د دوحې هوکړې له مخې یې ژمنه شوې، حالاتو ته په کتو به تر سره کېږي او که چېرته په سیمه کې د امریکا گټو ته گواښ متوجه وي، هغوی کولی شي د گواښونو د له منځه وړلو لپاره په افغانستان کې پاتې شي.

د دوحې تړون تر لاسلیک کېدو وروسته په افغانستان کې د تاوتریخوالي کچه نوره هم مخ پر زیاتېدو ده. د امریکا د ملي امنیت پخواني سلاکار جنرال مک مسټر له بي بي سي سره په یوه ځانگړې مرکه کې ویلي چې د ټرمپ په بهرني سیاست کې له طالبانو سره د دوحې تړون لاسلیک کول یوه تر ټولوستره ناکامي وه او د نوموړي په آند، امریکا له طالبانو سره د افغان حکومت پر ضد لاس یو کړی دی.

بلخوا د امریکا د دفاع پخواني وزیر مارک اېسپر سپیني ماڼۍ ته لیک استولی او له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو اېستلو په تړاو یې خپله اندېښنه شریکه کړې ده، چې په بېړه دې امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه نه وځي.

بلخوا د افغانستان په اړه د جو بایډن پخوانیو څرگندونو ته په کتو، داسې معلومېږي چې د نوموړي له راتگ سره به د سولې روان بهیر له بریالي کېدو سره سره په سپینه ماڼۍ کې ډېره دلچسپي ونه لري او په دې ترتیب به ښايي د سولې روانې هڅې په یو ډول ټکنۍ شي. هغه داسې چې د امریکایي فوځي چارواکو وروستیو څرگندونو ته په کتو، ښايي بایډن د دوحې تړون په خلاف ځینې امریکایي سرتیري په افغانستان کې پاتې کړي او دا چې په افغانستان او سیمه کې د امریکا گټې په کوم ډول خوندي کېدلی شي؛ په راتلونکې کې به هغو ته په کتو دوی گامونه پورته کوي، ځکه د امریکا گټې هغوی ته له افغان سولې ډېر ارزښت لري.

نو پر همدې بنسټ، افغان طالبانو او افغان حکومت ته پکار ده څو افغان سوله چې د سیمې هېوادونو لپاره پر یوې نیابتې جگړې بدله شوې، په دې برخه کې اغېزمن گامونه پورته کړي. د سولې په روانه لړۍ کې دواړې خواوې باید حتمي اوربند اعلان کړي، ځکه د روانې جگړې د دواړو خواوو قربانیان یوازې افغانان دي او که د جگړو شدت په همدې توگه دوام پیدا کړي، نو دا به د امریکا او د سیمې هغو هېوادونو ته چې په افغانستان کې د خپلو گټو لپاره لاسوهنه کوي، فرصت برابر کړي څو د دوحې تړون چې د سولې په برخه کې یو ښه پرمختگ گڼل کېږي، له منځه یوسي.

# د نومبر ۱۱مه او په چین کې د انلاین سوداګرۍ فیسټیوال



لیکواله: زرینه
د چین میډیا ګروپ خبریاله

د نومبر ۱۱مه یا (۱۱ . ۱۱) یانې د یوولسمې میلادي میاشتې یوولسمه نېټه په چین کې د انلاین سوداګرۍ ډېر مشهور فیسټیوال دی، چې چینیان هر کال په دې ورځ په انلاین ډول توکي اخلي. د پام وړ ټکی دا دی چې په دې فیسټیوال کې شیان په ډېر تخفیف خرڅېږي او خلک د دې ورځې له را رسېدو مخکې په خپلو ګرځنده ټلیفونونو کې د نصب کړل شویو اپلېکشنونو له لارې د خپلې خوښې شیان په نښه کوي او د نومبر ۱۱مې نېټې له صفر بجو څخه د ۱۲مې نېټې تر صفر بجو یې اخلي. ډېر مشهور انلاین پلور چیني شرکتونه خپلو مشتریانو ته پر چین سربېره، د نړۍ له هر ګوټ څخه د دوی د خوښې شیان برابروي. په دې ورځو کې پر انلاین سوداګریزو دوکانونو سربېره، د چین چټک پوست رسولو شرکتونه هم ډېر مصروف وي. د دې فیسټیوال بل په زړه پورې ټکی دا دی چې چینیان سره له دې چې سودا په ټیټه بیه اخلي، دا ورځ د یوه عمومي امتحان مانا هم لري او هر څوک کولای شي چې په دې ورځ سودا اخیستلو کې خپله ځیرکتیا او د پوهې کچه معلومه کړي، په دې مانا چې که څوک ډېر ځیرک وي، نو په دې ورځ به ډېر ښه شیان په ټیټه بیه واخیستلای شي او برعکس که څوک ځیرک او چالاکه نه وي، نو ښایي د شیانو په اخیستلو کې نیمګړتیاوې ولري. په سږني فیسټیوال کې چې څو ورځې وړاندې تېر شو، تر ۵ میلیونو زیات چیني او بهرنیو تصدیو ګډون کړی و، تر ۲۵۰ زرو ډېرو چیني او بهرنیو تجارتي برانډونو مشتریانو ته تخفیفونه ورکړي او په بېلابېلو انلاین مارکیټونو کې یې د تجارتي معاملو ارزښت ټولټال ۷۷۴ میلیارده او ۷۰۰ میلیونه یوانه ښودل شوی چې د دې فیسټیوال په تاریخ کې یې نوی ریکارډ جوړ کړی دی. په چین کې د ۱۱.۱۱ فیسټیوال تاریخچه: په چین کې ۱۱.۱۱ فیسټیوال بنسټ علي بابا شرکت اېښی او د دغه شرکت له لوري د ۲۰۱۹ کال د نومبر په یوولسمه رامنځ ته شو او مشتریانو ته یې د شیانو تخفیف وړاندې کړ. له هغې وروسته د هرکال همدغه ورځ یانې د نومبر یوولسمه په چین کې د ۱۱.۱۱ فیسټیوال په نوم یادېږي او یوازې د علي بابا تر انلاین مارکیټ پورې محدود پاتې نشو، بلکې نور زیات انلاین شرکتونه او مارکیټونه هم په همدې ورځ مشتریانو ته ځانګړي تخفیفونه وړاندې کوي. په تېر ۲۰۱۹ کال کې د دغه فیسټیوال په موده کې د سوداګریزې معاملې ارزښت له ۳۰ میلیاردو ډالرو زیات و چې دغه شمېر د امریکا د بلاک فرایډې (Black Friday) په پرتله پنځه برابره زیاتوالی ښیي. سږ کال د دغه فیسټیوال نېټه کې بدلون هم راغلی او لړۍ یې د نومبر له لومړۍ نېټې پیل شوه، انلاین شرکتونو او مارکیټونو د نومبر له لومړۍ نېټې مشتریانو ته د تخفیف ورکولو لړۍ پیل کړه او ویې غوښتل چې دا فیسټیوال وغځوي او د کرونا وبا له امله زیانمنې شوې سوداګرۍ دوباره اعاده کړي. سږنی ۱۱.۱۱ فیسټیوال نه یوازې د چین لپاره، بلکې د نړۍ لپاره هم د توکو اخیستلو مېله ده. د فیسټیوال په موده کې د پلورل شوو مالونو د لېږد رالېږد لپاره ۴۰۰۰ بار وړونکو الوتکو او بېړیو برخه اخیستې او کابو ۳ میلیونه کار کوونکي ګومارل شوي وو. د فیسټیوال له پیل وړاندې هغو فرانسوي تصدیو چې په فیسټیوال کې یې د ګډون لپاره نومونه ثبت کړي وو، د خپلو مالونو د خرڅلاو چارو د تامینولو لپاره د فرانسې په بورګنډي سیمه کې ښه امکانات برابر کړي وو. د یوراګوی تصدیو زر ټنه شیدې ذخیرې کړې، یوې اسراییلي تصدۍ ۲۴ ساعته د سینګار او بدني ښکلا الې تولید کړې. د واشنګټن پوسټ په راپور کې لیکل شوي چې سږنی ۱۱.۱۱ فیسټیوال د پخوا په پرتله توپیر لري، ځکه د نړۍ تصدیو د چین له سږني فیسټیوال څخه د ګټو تر لاسه کولو هیله ښودلې. ژوندۍ خپرونې د سږني ۱۱.۱۱ فیسټیوال په موده کې د توکو پلورلو لپاره یوه اغېزمنه طریقه ده. تصدۍ په انلاین مارکیټونو یا خواله رسنیو کې په ژوندۍ بڼه خپرونې جوړوي او ویاندویان یې مشتریانو ته د تولیداتو په اړه معلومات وړاندې کوي او د مشتریانو پوښتنو ته ځوابونه ورکوي. د یادونې وړ ده چې دغه ژوندۍ خپرونې په حقیقت کې اعلانونه دي او په ژوندۍ بڼه نه یوازې مسلکي ویاندویانو، بلکې مشهورو فلمي ستورو، سندرغاړو او ورزش ستورو لخوا هم عام خلک ان بزګر هم چې د اعلانونو وړتیا لري او مشتریان جلبولای شي، په دې خپرونو کې ګومارل کېږي. د سږني ۱۱.۱۱ فیسټیوال په موده کې د سوداګریزو معاملو غټ ارزښت د چین د برېښنایي سوداګرۍ چټک پرمختګ منعکسوي او د انټرنېټ ترویج، د مالونو د لېږدولو لپاره پرمختللی د پوسټ رسولو سیستم او لوی بازار د دغه هېواد د برېښنایي سوداګرۍ د چټک پرمختګ عمده لامل ښودل شوی کوم چې د دغه هېواد د اقتصادي او ټولنیزې ودې د دیارلسم پنځه کلن پلان د بریالیتوب نښه هم بلل کېږي. چین چې یو میلیارد او ۴۰۰ میلیونه نفوس لري، د نړۍ تر ټولو لوی بازار بلل کېږي او اټکل کېږي چې په راتلونکو لسو کلونو کې به دغه هېواد له نورو هېوادونو څخه تر ۲۲۰۰۰ میلیاردو یوانو زیات ارزښت لرونکي توکي وارد کړي. په داسې حال کې چې په نړۍ کې ډېر هېوادونه لا هم د کرونا وبا د نوې څپې د مخنیوي په هڅه کې دي او دغه وضعیت پر اقتصادي او سوداګریزو چارو هم منفي اغېزه کړې، خو چین دغه وبا ښه کنټرول کړې او خپله اقتصادي وده یې پخواني حالت ته رسولې ده او د چین دې وړتیا د نړۍ لپار هم هیله پیدا کړې.

# پر افغان خاوره د پاکستان او هند د نیابتي جګړې اور؛

## بهرنیو چارو وزارت: د پاکستان ادعا بې بنسټه ده، هېڅوک زموږ خاوره د ګاونډیو پر ضد نه شي کارولی



د پاکستان او هند ترمنځ د نوو ناندریو په دوام، تازه پاکستان ادعا کړې چې هند له افغان خاورې په استفادې په پاکستان کې ترهګریز فعالیتونه ترسره کوي. پاکستان ادعا کوي چې هندي استخبارات او د هند حکومت په پاکستان کې د ټولو ترهګریزو او ورانکارو ډلو تر شا ولاړ دی او هدف یې دا دی چې په دغه هېواد کې ورانکاري وکړي. دې مسئلې د افغان حکومت غبرګون هم پارولی دی.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په یوه خپره کړې اعلامیه کې د پاکستان ادعا بې بنسټه بللې ده. افغان حکومت بیا د دې مسئلې د څېړلو لپاره د یوه نړیوال پلاوي د تشکیل غوښتنه کړې ده.
سره له دې چې له کلونو راهیسې په افغانستان کې د هند او پاکستان پر نیابتي جګړې نیوکې کېږي، خو اوس پاکستان یو ځل بیا ادعا کړې چې هند له افغان خاورې په استفادې په پاکستان کې ورانکاري فعالیتونه ترسره کوي. وړمه ورځ د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر محمود قریشي د پاکستان د پوځ له ویاند سره یو ځای یو خبري کنفرانس درلود. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر وایي چې په پاکستان کې د ډېرى ورانکاره فعالیتونو تر شا د هند لاس دی. د ده په خبره، دوی داسې کره اسناد او ثبوتونه موندلي چې د دې ادعا د ثابتولو لپاره یې کارولی شي او په دې تړاو ټول شکونه له منځه وړي. محمود قریشي ادعا کړې چې هند د افغانستان له لارې په پاکستان کې د جماعت الاحرار، د پاکستاني طالبانو تحریک او بلوڅ بېلتونپالو له غورځنګونو او فعالیتونو ملاتړ کوي. د قریشي په خبره، هند د زرګونو پاکستانیانو وینې تویې کړې او د ترهګرو ډلو ستر ملاتړی دی.
بلخوا افغان حکومت بیا د پاکستان دغه ادعا په بشپړه توګه رد کړې او هغه یې بې بنسټه بللې ده. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر څرګندونې غیر معقولې او بې اساسه بللې او په خبره یې، افغان حکومت هېڅ وخت هېڅ ډلې ته اجازه نه ورکوي چې د ګاونډیو هېوادونو پر وړاندې یې ورانکاره فعالیتونه ترسره کړي. د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې راغلي، د افغانستان د حکومت پالیسي داسې نه ده چې افغان خاوره دې د بل هېواد پر ضد وکارول شي. په اعلامیه کې راغلي چې افغانستان د ترهګرۍ ضد جګړې په لومړۍ کرښه کې دی، د دې جګړې ستر قرباني دی او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د هر ډول ترهګرۍ پر وړاندې پر مبارزه ټینګار کوي.
د هېواد د بهرنیو چارو وزارت همدا راز د پاکستان د بې بنسټه ادعاوو د ثابتولو لپاره د ملګرو ملتونو او امنیت شورا د یوه نړیوال، بې طرفه او لوړپوړي پلاوي د جوړېدو غوښتنه کړې ده. سرچینه کاږي چې دغه نړیوال با صلاحیته پلاوی باید راشي په افغانستان کې د ټولو ترهګریزو پېښو اصلي جرړې پیدا کړي او تر هغه وروسته دې نړیوالو ته واضح کړي چې څوک په سیمه کې د ترهګرو ډلو او ترهګرۍ ملاتړي دي. د بهرنیو چارو وزارت په ډاګه دا نه دي ویلي چې پاکستان په افغانستان کې د ترهګرو ډلو ملاتړی دی، خو تر دې وړاندې په افغان حکومت کې ګڼو چارواکو په ځلونو پاکستان په افغانستان کې د ترهګرو ډلو پر ملاتړ تورن کړی دی. د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې راغلي: «د حقایقو د روښانه کېدو په موخه دې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د دې سازمان د عمومي غونډې او امنیت شورا د پرېکړه لیکونو پر بنسټ، د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې لپاره یو نړیوال باصلاحیته پلاوی وټاکل شي، څو د افغانستان په خاوره کې د بریدونو او ترهګرۍ عاملین تشخیص کړي او د پاکستان دولت ادعاوې هم په جدي او مسوولانه توګه وڅېړي».
بلخوا په افغانستان کې سیاسي جریانونه او په ټولنیزو رسنیو کې فعال کاروونکي بیا هند او پاکستان دواړه په افغانستان کې د رواني ناخوالې او اوږدې جګړې ملاتړي بولي. دوی وایي چې پاکستان او هند په افغانستان کې د یو بل د ځپلو لپاره نیابتي جګړه روانه کړې؛ ځکه پاکستان په ځلونو د افغانستان د سوله د کشمیر له مسئلې سره تړلې ده او هند بیا له دې وېره لري چې په افغانستان کې د پاکستان نفوذ به د هند ګټو ته زیان ورسوي. افغان سیاسي فعالین پر حکومت غږ کوي چې خپل دریځ دې لا پیاوړی کړي او د نیابتي جګړې دغه ملاتړي هېوادونه دې په افغانستان کې له لاسوهنې منع کړي.

# په ایران کې د کرونا ناورین؛

## روحاني: د کرونا د دویمې څپې د مخنیوي لپاره په سلو ښارونو کې شدید محدودیتونه لګوو


د ایران حکومت د کرونا ویروس د لا خپرېدو د مخنیوي لپاره له راروانې شنبې (د نومبر له ۲۱مې) سخت محدودیتونه لګوي.
د ایران ولسمشر حسن روحاني وایي، د کرونا ویروس د لا خپرېدو د مخنیوي لپاره دا شدید محدودیتونه لګول کېږي. نوموړي دا څرګندونې داسې مهال کوي چې ایران په منځني ختیځ کې په کرونا ویروس د خلکو د اخته کېدو او مړینو له اړخه تر ټولو زیات ځپل شوی دی.
د روحاني په خبره، دغه محدودیتونه به د پلازمېنې تهران تر څنګ په سل نورو ښارونو کې ولګول شي. د ایران ولسمشر دغه‌راز ویلي، خلک باید دا تریخ واقعیت ومني چې د کرونا وبا ستونزه به د اوږدې مودې لپاره پاتې وي او خلک باید له دغه نابللې مېلمه سره د اوږدې مودې لپاره ژوند کول زده کړي.
په ورته وخت کې د ایران د روغتیا وزارت مرستیال علي رضا رییسي، په یوه خبري کنفرانس کې رسنیو ته ویلي، غیر حیاتي کاروبارونه او خدمات به وځنډول شي او موټرونه به ښارونو ته د ننوتلو یا ورڅخه د وتلو اجازه ونه‌لري.
د رییسي په خبره، د شدیدو محدودیتونو له لګولو هدف د خلکو د کاروبارونو ځنډول نه، بلکې د کرونا وبا د لا خپرېدو مخنیوی دی. بلخوا د ایران لړزانده اقتصاد د امریکا متحده ایالتونو د بندیزونو له کبله نور هم ځپل شوی او د دغه هېواد رژیم د محدودیتونو لګولو او د اقتصادي چارو ځنډولو ته لېوالتیا نه‌درلوده.
دا په داسې حال کې ده چې د تازه شمېرو پر اساس په یاد هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۷۴۹ زره او ۵۲۵ ته رسېدلي او ۴۱ زره او ۳۴ نور ایرانیان یې مړه کړي دي.
پر ایران سربېره، په نوره نړۍ کې هم د کرونا ویروس مثبتې پېښې او د مړو شمېر ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دی. د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې کرونا مثبتې پېښې ۵۴ میلیونه او ۴۰۹ زره او ۷۷۰ ته رسېدلي او تر اوسه تري یو میلیون او ۳۱۹ زره او ۴۲۳ کسان مړه شوي او نږدې ۳۸ میلیونه تري بېرته رغېدلي دي.
امریکا، هند، برازیل، فرانسه او روسیه په ترتیب سره لومړی، دویم، درېیم، څلورم او پنځم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دويمه برخه
### د نړۍ دويم تر ټولو زوړ مسلک



دولت: د MI٦ مشر تر اوړدې مودې خدمت وروسته کولای شي چې ترفيع وکړي. زه يوازې ۱۷-۱۸ مياشتې د RAW مشر وم، لکه جنرال صېب. کله چې پر څوکۍ کېنې او د مسايلو يا موضوعاتو په اړه دې سم سر خلاص شي او خوند ترې اخلې، نو بيا دې وخت خلاص وي. په هند کې د استخباراتو يو مشر دوه کاله وخت لري، خو دا وخت کافي نه دی. دا بايد درې کاله وي، پرته له دې چې له دندې ګوښه کړل شي. جنرال صېب يادونه وکړه چې ISI خپله پرېمانه بوديجه لري. موږ دا ډول بوديجه ځکه نه لرو چې CIA هېڅکله نه يو تمويل کړي! همدارنګه د ګمنامه اوسېدو يادونه يې وکړه. يو وخت په هند کې حتی د IB د مشر يو انځور هم نه پيدا کېده. ښاغلی (کاو) هېڅکله په انځور کې نه دی ليدل شوی. خو اوس د څارګرو ادارو مشران ټول پېژني او ځان څرګندول اوس عام شوي دي. په نوره نړۍ کې هم همداسې ده.
سېنها: ايا له يوه پياوړي لومړي وزير سره د استخباراتو د مشر ګوزاره سخته نه ده؟
دولت: سخته ده، خو ښه هم ده. دنده به ډېره سخته وي، ځکه چې څارګرې ادارې ځان ته په خپله دندې ټاکي. موږ تر نورو په دې حقيقت ښه پوهېږو. کله چې دنده له پورته خوا درسپارل کېږي او فکر کوي چې څه به کېږي او څنګه به يې پر مخ بيايې، نو په دې وخت کې درته کار ستونزمن کېږي. دا کار هغه وخت لا زيات ستونزمن کېږي، لکه جنرال صېب چې ورته اشاره وکړه، کله چې له کوم ځانګړي رژيم يا له يوه ځانګړي جوړښت سره کار کوې.
د مودي په څېر له يوه ځواکمن لومړي وزير سره کار کول خامخا سخت وي. دا کېدای شي ساده وګڼل شي، خو هېڅکله اسانه نه ده. د هند په تاريخ کې ځينې لومړي وزيران تېر شوي چې له استخباراتي چارو سره يې چنداني لېوالتيا نه لرله. زه فکر نه کوم چې موراجي ديسای (۱۹۷۷-۱۹۷۹) دې کله هم استخباراتو ته د يوه ارزښت په سترګه کتلي وي. ناراسيما راو (۱۹۹۱-۱۹۹٦) هم په دې باور و چې استخبارات ټوله درغلي ده. حتی اې کې ګجرال (۱۹۹۷-۱۹۹۸) هم د استخباراتو په اړه شکمن و. خو ځينو نورو لومړيو وزيرانو لکه راجېو ګاندي (۱۹۸۴-۱۹۸۹) ورسره لېوالتيا درلوده، ځکه چې نوموړی ځوان و. هغه خورا علاقه مند و او پر استخباراتو به يې ډېره تکيه کوله. د استخباراتي بيرو (IB) مشر به هره شپه لس نيمې بجې له هغه سره کافي څښله. همدارنګه لومړي وزير اتل بېهاري واجپای (۱۹۹۸-۲۰۰۴) هم چې ما ورسره کار کړی، يو ښه اورېدونکی و او خوښوله يې چې خبرو ته غوږ کېږدي. د خبرو په وخت کې به يې غبرګون نه ښوده، بلکې داسې احساس به يې درکاوه چې ورته مهم يې او غواړي ستا په خبره ځان پوه کړي. هېڅکله يې بې ارزښته نه باله. دا د هغه چا لپاره چې لړې خبرې به يې کولې، يو ښه هڅوونکی و.
سېنها: ايا IB او RAW دواړه په ګډه سم کار کوي او که نه؟
دولت: نه زه دا نه وايم چې موږ په ګډه کار نه کوو، بلکې کوو يې. د استخباراتي کار طبيعت داسې دی چې تر يوه بريده پکې بخل او ځانځاني ده. خو دا بايد تر کومه حده وي؟ په امريکا کې تل د CIA او FBI ترمنځ ستونزې او لانجې وي. په دې توګه، نه شو کولای وواېو چې بل چېرته دا ډول پېښې نه شته. دا دې ته منسوب کېږي چې CIA څومره ستره شوه. دا د هغو کسانو لپاره ځوروونکې ده چې عملاً ورسره لاس او ګرېوان دي.
دوراني: تاسو چې په هند کې په ګډه کار کوی، نو تاسو له موږ څخه يو ګام وړاندې ياست. خو زموږ د ادارو ترمنځ به دا ډول همکاري په سختۍ ومومې.
دولت: پاکستان تر موږ يو ګام شا ته دی؟ خوښ يم، هلته به هرومرو يو څه وي چې هغوی وروسته دي.
دوراني: په پاکستان کې د حکومتي او ملکي – پوځي ادارو تر منځ همکارۍ په ټوله کې کمرنګې ده. کېدای شي لامل يې زموږ تاريخ وي.
دولت: زه په استخباراتي بيرو (IB) کې ستر شوی يم او ۳۰ کاله مې هلته تېر کړي دي او ډېر لږ داسې پېښ شوي چې شک مې کړی وي چې په RAW کې به څه تېرېږي. په IB کې به کله کله د RAW پر سر تحقير کېدو هم. کله چې له ما وغوښتل شول چې د ادارې (را) مشري وکړم، نو سملاسي مې ومنله، کنه په IB به د دويم نمبر کس په توګه تقاعد شوی وم. که څه هم تر دې مخکې د کورنيو چارو وزارت راته د يوه ملېشه ځواک د مشرۍ وړانديز کړی و، خو ما رد کړی و. ما وويل ټول عمر مې په استخباراتو کې تېر کړی، ولې له مسلکه بهر شم. کله چې RAW ته لاړم، هغوی خوښ نه وو. له شک پرته هغوی فکر کاوه چې زه له را د باندې نه راغلی يم. دې يو څه وخت ونيو چې هغوی ته قناعت ورکړم چې زه هم د دې مسلک سړی يم او په کار پوهېږم. په زړه پورې دا چې په را کې له هر کس سره دا انديښنه وه چې د IB کسان ښايي په RAW کې په لويه کچه تصفيه پيل کړي. زما پخوانيو ملګرو انګېرله چې زه لا هم په را کې د IB کس يم. کله به چې د دواړو ادارو ترمنځ د کومې مسئلې پر سر بحث او جدل رامنځته کېده، نو د IB مشرانو به ويل چې: ياره ته خو زموږ خپل سړی يې. ما به ويل البته، خو اوس د را مشر يم او د دې ادارې ګټې زما لپاره لومړيتوب لري. يوه ورځ د کابينې منشي (پرابات کومار) رانه پوښتنه وکړه چې د RAW او IB ترمنځ کومه يوه يې غوره ده، ما وويل دواړه غوره دي، خو IB څه پراخه ده چې په تشکيل کې پوليس هم لري. همدلته ده چې ځينې توپيرونه ليدل کېږي او له همدې امله ده چې کله کله د ګډ کار زمينه نه وي. **دوام لري...**



# اروزګان

حشمت الله نوري

اروزګان چې د روزګان يا اوروزګان په ويېونو هم نومول شوی او ياد شوی، د افغانستان له مرکزي ولايتونو څخه دی.
اروزګان د کندهار، غزني، دايکنډي، زابل او هلمند ولايتونو تر منځ پروت دی، چې د افغانستان يو مرکزي ولايت ګڼل کېږي، خو ځينې يې په سوېل کې هم شمېري .
په سوېل کې يې زابل او کندهار موقعيت لري، هلمند يې په سوېل- لوېديځ کې، دايکنډي يې په شمال او غزني يې په ختيځ کې موقعيت لري چې ټولټال يې نفوس څه کم څلور سوو زرو تنو ته رسېږي.
ولسوالۍ
دهراوود، چوره، ګيزاب چارچېنو او خاص اروزګان يې ولسوالۍ او ترينکوټ يې مرکز دی، خو په دې وروستيو کې د سراب او چنارتو ولسوالۍ پکې هم جوړې شوې دي، خو تر اوسه رسمي نه دي.
اروزګان تر دوولس نيم زره کېلومتره مربع زيات مساحت لري او د افغانستان يو نسبتاً وروسته پاتې ولايت بلل کېږي. د دې ولايت ۷۲ سلنه ساحه وړو او لويو غرونو نيولې او ۲۱ سلنه نور يې هوارې ځمکې تشکېلوي.
د دې ولايت ډېری اوسېدونکې پښتانه دي او ځينې هزاره هم پکې مېشت دي.
پوپلزي، اڅکزي، نورزي، بارکزي، الکوزي او دراني د پښتنو مهمې او مشهورې قبيلې دي. دغه راز په دې ولايت کې ځينې کوچيان هم مېشت دي.
مخينه
اروزګان پخوا د اراکوزيا لرغونې سيمې پورې تړاو درلود. په ۷مه پېړۍ کې کله چې عرب افغانستان ته د اسلام د خپرېدو او دعوت په موخه راغلل، نو دغه ولايت لومړی د زمبليانو او صفاريانو لخوا کنټرولېده، بيا په ۹مه پېړۍ کې غزنويانو، غوريانو او منګوليانو هم پرې واکمنی کړې دي. کله چې احمدشاه دراني په افغانستان کې واکمني پيل کړه، نو اروزګان لومړۍ سيمه وه چې هغه د امپراتورۍ په ساحه کې ورګډه کړای شوه.
پر افغانستان د شوروي اتحاد د يرغل پر مهال اروزګان د لويو جګړو شاهد و، هغه مهال په دې سيمه کې د مجاهدينو مشري د جان محمد خان پر غاړه وه. په ۱۹۹٤ کال کې دغه ولايت د طالبانو لخوا ونيول شو، خو په ۲۰۱۱ کال کې د طالبانو د واکمنۍ د ړنګېدو په وروستيو کې ولسمشر حامد کرزي له خپلو پلويانو سره دې ولايت ته سفر وکړ او له دې ځايه بيا کابل ته را روان شو.
پوهنه
د ليک او لوست کچه پکې خورا ټيټه ده. د هېواد د نورو ولايتونو په پرتله ډېر لږ ماشومان پکې ښوونځيو ته ځي. د روغتيايي اسانتياوو په برخه کې هم تر نورو ولايتونو وروسته پاتې دی، خو له دې سره سره په وروستيو کې ځينې کارونه هم پکې شوي دي.
تاريخچه
په اروزګان کې د تاريخي ځيرنو او لرغون پلټنو اړتيا د دغه ولايت په مرکز او هره ولسوالۍ کې د تاريخي ودانيو داسې نښانې او بېلګې پيدا کړې، چې هره برخه يې د څېړنو او پلټنو لپاره د ځانګړو پوهنيزو پروژو په توګه د څېړلو او پلټلو ارزښت لري. له بده مرغه تر اوسه دغه ولايت ته د تاريخي څېړنو او لرغون پلټنو له اړخه هيڅ پام نه دی شوی. د اروزګان جغرافيايي موقعيت له شک پرته دا څرګندوي چې په تېرو زمانو کې يې له سياسي، اقتصادي او نظامي پلوه ځانګړی دريځ درلود. د دې وينا سپيناوی د هغو څېړنو له برکته په خورا څرګنده ښه کېدلای شي، چې له دې ولايت سره د څنګ ګاونډيو ولايتونو په بېلابېلو سيمو کې تر سره شوې دي. د يفتلي پاچاهانو او بيا زابل شاهانو يو ستر مرکز اوسنی زابل و، چې د اروزګان ولايت سهيل- ختيځ ته پروت دی. د دې ولايت نوم په ډېرو تاريخي متونو او ليکنو په ځانګړې توګه د اسلامي پير ليکوالو په اثارو کې ياد شوی.
په دې ولايت کې د زابليانو او رتبيلانو د مهال زياتې پېښې د تاريخ په پاڼو کې شته چې پرله پسې دوې پېړۍ د اعرابو د پرمختګ مانع ګرځېدلی او د مهاجمينو پر وړاندې يې پرله پسې اتلولۍ کړې دي.
د قلات ښار او په قلات ښار کې تاريخي غونډۍ چې په لومړۍ افغان انګليس جګړه کې د انګريزي لښکرو پر وړاندې د وياړ سمبول ګرځېدلې وه، هغه بېلګه ده چې د هېواد په تاريخ کې يې وياړمن نوم ګټلی دی. د دې تر څنګ، د زابل په بېلابېلو ولسواليو کې د لرغونو او تاريخي اثارو شتون د دې ولايت د ارزښتمن رول په اړه د داډ وړ بېلګې دي. د اروزګان ختيځ ته غزني پروت دی چې تاريخي او لرغوني اثار او سيمې يې د بېلابېلو لرغونپوهانو او څېړونکو له لوري څېړل شوي او پېژندل شوي دي. د امريکايي لرغونپوه لويس دوپرې په زيار د ناور دښته وڅېړل شو، چې په افغانستان کې د لرغونو انسانانو د شتون تر ټولو پخوانی او څرګند ټاټوبی ګڼل کېږي. د لومړي ځل لپاره د فرانسوي لرغونپوهانو ډله د مسيو فوشه په مشرۍ په غزني کې د بودايي پير ډېر لرغوني توکي را وپېژندل. همدا ډول د اسلامي پېرېو اړوند ابدات او په ځانګړې توګه د غزنوي پاچاهانو د مهال ودانۍ او ابدات په زياته پيمانه د ايټالوي لرغونپوهانوپه زيار وڅېړل شوه، چې نه يوازې د لرغوني او تاريخي غزني ارزښت يې را څرګند کړ، بلکې د افغانستان د لرغوني تاريخ ډېرې پټې او ناڅرګندې برخې يې څرګندې کړې دي. باميان د اروزګان او اوسنې ډايکندي شمال- ختيځ لوري ته پروت دی. له زيات تفصيل پرته ويلای شو چې باميان نه يوازې دا چې د هېواد په لرغوني تاريخ کې ځانګړی دريځ لري، بلکې د لرغونو زمانو بودايانو لپاره يې د يوه سپېڅلې سيمې ارزښت درلود، د دې خبرې سپيناوی په هغو سترو او زياتو مجسمو کې ليدلای شو چې د باميانو په مرکز او اړوندو ولسواليو کې د لرغونپوهانو او څېړونکو په زيار پېژندل شوې او څېړل شوې دي. په باميانو کې د صلصال او شمامې دوې سترې پژۍ نه يوازې دا چې د افغانستان د لرغوني تاريخ او پخوانيو کلتوري شتمنيو ستره برخه ده؛ بلکې د نړۍ د پخواني تاريخ د څرګند څېرکې په توګه د نړيوال کلتوري ميراث په توګه منل شوي او د څېړونکو او سيلانيانو د پام وړ ګرځېدلي دي. د اروزګان شمال- لوېديځ لور ته غور پروت دی، نوموړی ولايت د خپلو نورو لرغونو اثارو او تاريخي ودانيو تر څنګ د جام څلي په شتون زيات نامتو شوي دی. د جام تاريخي څلی چې په افغانستان کې د اسلامي پير له زياتو نامتو ودانيو څخه ګڼل کېږي، اوسمهال د يونيسکو ادارې له لوري د نړۍ د لرغونو کلتوري ميراثونو په لړ کې شمېرل شوی دی. د دې تر څنګ د لرغوني شا مشهد، فيروز کوه، باغ ارام، قلعه اهنګران او نوري تاريخي سيمې شته چې د لرغوني او تاريخي غور ځانګړی ارزښت يې څه ناڅه را برسېره کړی دی. په غور کې د فرانسوي لرغونپوهانو په ځانګړې توګه د پروفيسور فيشر له لوري د تاريخي ودانيو پاتې شونې او د لرغونو انسانانو ميشت ټاټوبې ډېری يې سروې شوې او څېړل شوې دي، چې د غور تاريخي ارزښت يې برملا کړی دی. هلمند د اروزګان سهيل- لوېديځ ته پروت هغه تاريخي ولايت دی چې د ځينو تاريخ پوهانو او لرغونپوهانو له لوري يې نامتو لرغوني سيمې او تاريخي ټاټوبي ځيرل شوي او پلټل شوي، چې تر ټولو ښه بېلګه يې په سنګين کې لرغوني هديرې، موسې کلا او څاروان کلا کې د لرغونو ودانيو پاتې شونې دي. د دې تر څنګ د فرانسوي او افغاني لرغونپوهانو او مورخينو له لوري د لښکري بازار په نوم د يوې تاريخي سيمې د څېړلو او پېژندلو لپاره وړ هڅې تر سره شوې دي او همداسې د بست کلا او هغې ته څېرمه زياتې تاريخي ودانۍ څېړل شوې او معرفي شوې دي.
کرنه
په دې وروستيو کې د اروزګان د کرنې رياست د شکرپارې طرحه د جمهوري رياست لخوا منظور شوې، چې په دې برخه کې هلې ځلې هم په دې ولايت کې ګړندۍ شوې دي.
د دغه ولايت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست چارواکې وايي، چې د دې طرحې د پلي کېدو په پار د لومړي ځل لپاره په دې ولايت کې د شکرپارې ۱۲ هکټاره سوداګريز ننداريز بڼونه جوړ شوي دي.
د اروزګان د کرنې رييس وايي چې د دغه ولايت د کرنې رياست د شکرپارې طرحه د پنځو کلونو لپاره ده، چې په دې طرحه کې د اروزګان ولايت لپاره ۴۰۰ نوي بڼونه جوړول او د بڼوالۍ اړونده توکو ۱۵ کڅوړې، ۲۰۰ سلفر خونې کليکسون او د شکرپارې د پروسس او بسته بندۍ فابريکه شامل دي. د اروزګان د کرنې رياست وايي چې د دې طرحې مطابق سږکال ۱۲ هکټاره نوي بڼونه او ۱۵ زاړه بڼونه جوړوي، چې د نويو بڼونو د جوړولو چارې بشپړې شوې دي.
د اروزګان د کرنې رياست وايي، چې د دې طرحې په پلي کولو سره د دغه ولايت د شکرپارې ټول توليدات په معياري ډول توليد او بسته بندي کېږي او دغه راز په معياري او قانوني ډول ملي او نړيوالو مارکېټونو ته صادرېږي
ورزش
ورزش او لوبې له پخوا زمانو څخه په دغه ولايت کې دود دي، چې مهمې هغه يې خوسی، ډېره اچول، کبډې، دوره، کېلک دومبک، پټپټاني، مردکۍ، بوجلي (بيډۍ)، غېږ نيول، کچه کول، کتار، درې خطی او ځينې نورې لوبې دي چې ډېری يې په کليو کې دود دي او اوسمهال په ښارونو او کليو کې واليبال، فوټبال، کرکټ او باسکېټبال لوبو ډېر مينه وال پيدا کړي دي.
د فوټبال تر څنګ پکې واليبال او کرکټ لوبې هم کېږي، دغه راز په دغه ولايت کې ۱۵ ورزشي کلبونه شته او ۱۰ ورزشي ځانګې پکې فعالې دي، په دغو ټولو اړونده ځانګو کې ډېرې ځوان لوبغاړي ثبت او راجستر دي او ډېری يې په ولسواليو کې پرته له دې چې راجستر شوي، پر لوبو بوخت دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۹۰ |
| Rp. | ۴۹۰ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹،۵۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# هره ستونزه د حل یوه لاره لري

ژباړه: حمیدالله حمیدي

موږ د خپلو افکارو د دایرې د پراخوالي لپاره پراخ لرلید او مثبت لیدلوري ته اړتیا لرو. د نوښت او خلاقیت تمرین او د راتلونکي په اړه مثبت نظر درلودل، له موږ سره مرسته کوي چې په تدریج سره یوازې پر یوه اصل باندې باور ولرو او هغه اصل دا دی چې: «تل یوه حللاره شته.»
«بریا ته د رسېدو لپاره تر ټولو غوره لاره دا ده چې د خپل زړه اواز ته غوږ کېږدئ، له بهرنیو سلا مشورو ګټه واخلئ او د دې لپاره پیاوړې اراده وکړئ چې بریا ته د رسېدو لپاره د سفر په اوږدو کې له شرایطو سره توافق او جوړجاړی وکړئ او پوره خاکساري او انعطاف پذیري ولرئ.»
د پخوانیو افسانو پر بنسټ، یو ځوان ښکاري چې «سن ژوان» نومېده، پر دې پوهېده چې د ده پلار، نیکه او ډېرو نورو ښکاریانو هڅه کړې چې د خپلو نیزو، دامونو، لیندیو او په بلې هرې وسلې د بیزوګانو دغه نسل ښکار کړي، خو بریالي نه شول، ځکه چې دغه حیوانات ډېر چټک او چالاک دي. هغه او پلار یې هڅه وکړه چې د دغه پیاوړي دښمن د ښکار کولو په خاطر ځانګړې دامونه (کړۍ) او جالونه جوړ کړي، خو د دوی دې کړنې هم کومه بریا لاسته رانه وړه.
یوه ورځ د سن ژوان ذهن ته یوه نوې نظریه ورسېده. هغه یو لوی دېګ ته ورته لوښی چې د ډېرې کوچنۍ خولې درلودونکی و، جوړ کړ او د بیزوګانو د خوښې وړ خواړه یې پکې واچول. له هغه نه په تقلید سره ډېرو نورو کسانو هم دغه کار وکړ او خپل لوښي یې پر ځمکه کېښودل او په تمه شول چې وګوري څه پېښېږي.
هغوی په پوره شوق او لېوالتیا سره لیدل چې چالاکې بیزوګانې به له ونو را کوزېدلې او لوښي به یې یو پر بل پسې تالاشي کول. بیزوګانو ټول لوښي په نوبت سره کتل، ځان یې ورپورې سولاوه او د لوښو په منځ کې یې د خوندورو خوړو بوی حس کاوه.
پوهېږئ چې د بیزوګانو بل ګام څه و؟ هغه څه پېښ شول چې سن ژوان یې د پېښېدو تمه درلوده!
د هغه طرحه او پروګرام بریالی شو. بیزوګانو به خپل کوچني لاسونه په دېګ کې ننه ویستل او خپل موټی به یې له خوړو ډکاوه؛ خو کله به یې چې غوښتل خپل لاسونه له دېګه را وباسي، موټی به یې له هغې اندازې لوی و چې د دېګ له خولې باندې را ووځي. دا چې دېګونه ډېر درانه وو، بیزوګانو نه شوای کولای چې له ځان سره یې ویسي، هماغه وو چې بندې پاتې کېدلې. سن ژوان او ملګري یې د دغو صحنو په لیدو حیران پاتې وو.
بیزوګانو څه وکړل؟ خواړه یې بېرته په دېګ کې پرېښودل او خپل ځانونه یې ازاد کړل؟ او که د دغو خوندورو خوړو په خاطر یې ځانونه تسلیم کړل؟
سن ژوان او ملګري یې وېرېدل چې بیزوګانو ته ور نږدې شول. هغوی د دغو حیواناتو په سترګو کې له ورایه وېره لیدله، خو حیران ول چې ولې بیزوګانې نه غواړي چې د خپلې خوښې خواړه پرېږدي.
بیزوګانو د دې وس نه درلود چې له نویو او ناپېژانده شرایطو سره توافق وکړي. هغوی نه شوای کولای چې خپله تګلاره بدله کړي او له انسانانو تقلید وکړي. هماغه وو چې ښکاریانو په اسانۍ سره ونیولې او په خپلو قفسونو کې یې بندې کړې. سن ژوان ګټونکی شو. هغه داسې یو کار وکړ چې تر ده مخکې هېچا هم نه و کړی!
په اړه یې فکر وکړئ. غني ډوله چټکو بیزوګانو نه غوښتل چې حتی د خپلې ازادۍ د خوندي ساتلو په خاطر له خوندورو خوړو لاس واخلي. هغوی هېڅ اصل نه درلود چې د هغه پر اساس له خپلې مخې په دومره اسانۍ سره خنډ لرې کړي.
که چېرې پر دې قوي باور ولرو چې هر خنډ له منځه تلونکی دی او کولای شو پر وړاندې یې ودرېږو، بیا نو موخې ته رسېدل ډېر اسانه او ساده دي. نو بیزوګانو هېڅکله نشوای کولای چې د ستونزې په اړه پراخ لیدلوری ولري او حللاره ولټوي. هغوی لکه څنګه چې لاسونه یې په لوښي کې بند پاتې وو، ارامې ناستې وې چې ښکاریان راشي او په خپل دام کې یې را ګیر کړي. په پای کې هماغسې ګیر شوې، ځکه چې له شرایطو سره د توافق او جوړجاړي لپاره یې اړین استقامت او مبارزه ونه کړه او دا هر څه ورته د بندي خانې په بیه تمام شول.
ډېر کسان پر دې پوهېږي چې د اړتیا په صورت کې باید له هغه څه لاس واخیستل شي چې د ارزښت وړ نه دي؛ خو ځینې وخت موږ او تاسو له عادي کسانو څخه زیات د ناپوهۍ کارونه کوو. داسې نه ده؟ په خپل ژوند کې مو پر څه ډېر ټینګار کړی دی او په پایله کې ستاسو دغه بې کچې ټینګار او تمرکز ستاسو د ماتې لامل شوی دی؟ په پوره باور او اطمینان سره پرېکړه ستونزمن کار دی. د هغو خوړو په څېر چې بیزوګانې ور پورې نښتې وې، اکثره هغه موضوعات چې موږ پرې بې کچې ټینګار کوو او ور پورې نښلو لکه بارونه، دندې، اړیکې او یا بل هر هغه څه چې مینه ور سره لرو، په لومړیو کې ډېر جذاب او مطلوب ښکارېږي. کېدای شي دغه موضوع سمه وي، خو د دې لپاره چې پوه شی چې په موټې کې نیولې خواړه (تر نظر لاندې کار) مو د ارزښت وړ دي او که نه، اړینه ده چې په اړه یې لازم پر ځان باور او مثبت نظر ولرئ.
کېدای شي هغه څه چې ستاسو په نظر ستاسو وروستۍ هیله او غوښتنه ده، هماغه څه وي چې تاسو له رښتینې بریا او لاسته راوړنو وروسته پاتې کوي.
په پای کې تاسو پرېکړه کوونکي یاست. ژوره ساه واخلئ او یو ځل بیا هرڅه له سره و ارزوئ؛ خو په یاد ولرئ چې یوازې نه یاست.
موږ د یوې بلې افسانې له اختراع کوونکي سره هم ناسته درلوده چې له خنډونو سره د مخ کېدو پر مهال د استقامت او پراخ لرلید د لرلو په ارزښت رڼا واچوو.
«ران کلبن» هغه څوک و چې برېښنایي کارتونه یې اختراع کړل، له دغو کارتونو څخه اوس پر بانکي چارو سربېره د ډېرو حسابونو د تصفیې د اسانتیا، د دروازو د خلاصولو او راکړې ورکړې په برخه کې کار اخیستل کېږي.
ښاغلي ران په یوه مرکه کې واضح کړه چې: «د یوې ستونزې په اړه ستاسو لیدلوری متفاوت دی. دغه تفاوت له هغو کلماتو راپورته کېږي، چې موږ او تاسو یې د همدغې ستونزې په اړه کاروو. هر هغه څه چې خلک یې د سخت او ناشونې کار په نامه یادوي، زما لپاره یوه کوچنۍ ستونزه ده. سخت کار هغه خنډ دی چې د زغملو وړ نه وي، خو ستونزه د یوې نوې حللارې د پیدا کولو موقع او فرصت دی. تر ټولو اړینه دا چې تاسې د ستونزو له منځه وړلو وروسته وړتیا او برکت تر لاسه کوی.

# مشرانو جرګه: کابل ته د عمران خان سفر به پر روان وضعیت مثبت اغېز ونه لري

د مشرانو جرګې یو شمېرغړي په هېواد کې د امنیتي وضعیت په اړه د شکایت ترڅنګ، افغانستان ته د پاکستان د لومړي وزیر عمران خان د سفر د مثبتو پایلو په اړه خوښ نه دي او ټینګار کوي چې پاکستان باید د افغان حکومت د وسله والو مخالفینو له ملاتړه لاس واخلي.
دا په داسې حال کې ده چې د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، ټاکل شوې چې د پاکستان لومړی وزیر عمران خان روانه اونۍ د افغان حکومت په رسمي بلنه کابل ته راشي.
په مشرانو جرګه کې د کاپیسا د خلکو استازي محی الدین منصف د دې جرګې په پرونۍ ناسته کې افغانستان ته د عمران خان سفر ته په اشارې وویل چې د افغانستان حکومتي چارواکو په تېر کې پاکستان او پاکستاني چارواکو افغانستان ته سفرونه درلودل، خو د افغانستان پر وضعیت یې مثبت اغېز نه درلود او د افغان حکومت د وسله والو مخالفینو ملاتړ لا هم د پاکستان له خوا ترسره کېږي.
هغه زیاته کړه: «هیله لرو څو پاکستان د افغانستان په اړه پر خپله تګلاره له سره غور وکړي او د دولت پر وسله والو مخالفینو فشار راوړي، څو د سولې له بهیر سره یو ځای شي.»
د هغه په وینا، پاکستان یو اسلامي او د افغانستان ګاونډی هېواد دی او په افغانستان کې د امنیت ټینګښت په هغه هېواد کې هم د امنیت سبب کېږي او د امنیت د ټینګښت په صورت کې به د دواړو هېوادونو اقتصاد وده وکړي.
د جرګې یو شمېر نورو غړو هم ورته څرګندونې درلودې او د پاکستان له حکومت یې غوښتي چې د افغانستان په اړه پر خپله پالیسۍ له سره غور وکړي.
د مشرانو جرګې لومړي نایب محمد عالم ایزدیار چې د جرګې د پرونۍ ناستې مشري یې کوله، هم افغانستان ته د عمران خان د سفر په اړه وویل: «موږ د تګ او راتګ څو کلنه تجربه لرو، خو له بده مرغه د افغانستان پر وضعیت یې مثبت اغېز نه دلود، هیله لرو چې دا ځل د پاکستان حکومت د افغانستان په اړه لازم صداقت ولري او پر طالبانو لازم فشار راوړي.»
هغه زیاته کړه: «د پاکستان د حکومت له پرله پسې سفرونو او ژمنو سربېره، په افغانستان کې جګړه توده شوې او د دغه هېواد د وسله والو مخالفو ډلو له تمویله یې لا هم لاس نه دی اخیستی.»
هغه د عمران خان سفر ته په اشارې وویل: «هیله لرو چې د افغانستان د حکومت رهبري له پاکستاني چارواکو سره په صراحت خبرې وکړي او ټول مسایل د مېز پر سر واچول شي او هغه څه چې پاکستان یې غواړي، باید روښانه وي.»
ایزدیار هم د افغانستان په اړه د پاکستان پر سیاست د بیاکتنې غوښتنه وکړه او ویې ویل، تر هغه چې پاکستان د افغان حکومت د مخالفینو له ملاتړ او تمویله لاس وا نه خلي، د افغانستان وضعیت به بدل نه شي.

# کورنیو چارو وزارت: په تېره نږدې یوه میاشت کې ۴۲۳ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې



په داسې حال کې چې په دوحه کې د حکومت او طالب مرکچي پلاوو ترمنځ د سولې خبرې په ټپه درېدلي، ورسره سم په نږدې ټول هېواد کې جګړې او نښتې په شدت سره روانې دي. د راپورونو له مخې، په دغو جګړو کې پر ښکېلو غاړو سربېره، ګڼو ملکیانو ته هم مرګ ژوبله اوړي.
تازه کورنیو چارو وزارت وایي چې د وسله والو طالبانو په وروستیو بریدونو کې ۱۳٤ ملکي وګړي وژل شوي او ۲۸۹ نور ټپیان شوي دي. د دغه وزارت ویاند طارق ارین تېره ورځ په کابل کې د یوې خبري غونډې پر مهال وویل چې د وسله والو طالبانو له خوا ملکي وګړو ته دا مرګ ژوبله په تېرو ۲۵ ورځو کې اوښتې ده.
هغه زیاته کړې، چې وسله والو طالبانو په دغه موده کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې تر ۲۰۰ ډېرې چاودنې او ۱۵ ځانمرګي بریدونه کړي دي.
ارین وویل چې د وسله والو طالبانو په دغو بریدونو او چاودنو کې د دولتي سرتېرو ترڅنګ ملکي وګړو ته هم یاده مرګ ژوبله اوښتې ده. ارین زیاتوي چې په یاده موده کې د دولتي ځواکونو له خوا په بېلابېلو ولایتونو کې د ځمکنیو او هوایي عملیاتو پرمهال لسګونو وسله والو طالبانو ته هم مرګ ژوبله اوښتې ده.
په ورته وخت کې طالبانو د کورنیو چارو وزارت د دې ادعا په اړه تراوسه څه نه دي ویلي، خو تر دې مخکې یې د ملکي مرګ ژوبلې په اړه دا ډول ادعاوې رد کړې دي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696 | waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul | waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۲۶مه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۱٦مه | ٦۲۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | ۱٥ | ۱٦ | ۱٥ | ۱۷ | ۱٤ |
| -٤ | ٤ | ٥ | ۷ | ٦ | ٥ |

شرعي وختونه: سهار ۰٥:۰۱ | لمر ختل ۰٦:۲۷ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیګر ۰۲:۲۹ | ماښام ۰٤:٤۹ | ماخوستن ۰٦:۱٦

## نړۍ



په ایران کې د کرونا ناورین؛

# روحاني: د کرونا د دویمې څپې د مخنیوي لپاره په سلو ښارونو کې شدید محدودیتونه لګوو

۳

## وزارت معارف: امتحانات امسال مکاتب سردسیر در آغاز سال ۱٤۰۰اخذ می شود

وزارت معارف افغانستان می گوید،به دلیل سردی هوا درمکاتب سرد سیر از صنوف اول تا ششم ازاول قوس و صنوف هفت تا دوازدهم از پانزدهم قوس رخصت گردیدند و امتحانات این صنوف در شروع سال تعلیمی ۱٤۰۰ اخذ می گردد.

در خبرنامۀ این وزارت آمده است که به اساس فیصله رهبری وزارت معارف به منظور جلوگیری از متضرر شدن پروسه تدریس در سال ۱۴۰۰ تعلیمی و با در نظر داشت سردی هوا و ریزش برف و باران چنین تصمیمی اتخاذ گردیده است.

منبع می نویسد، معلمین مکلف اند قبل از رخصتی زمستانی به شاگردان وظیفه دهند تا در ایام رخصتی دروس خوانده شده را تکرار و برای امتحان سالانه آماده گی لازم داشته باشند.

همچنان در خبرنامه تذکر داده شده است که سوالات برای امتحان سالانه از دروس خوانده شده ترتیب می‌گردد. منبع همچنان افزوده است با در نظر داشت موارد فوق، سال تعلیمی ۱۳۹۹ تابع یک امتحان نهایی (سالانه) بوده و نمرات آن از ۱۰۰ محاسبه می گردد. بربنیاد معلومات خبرنامه، صنوف اول تا ششم مکاتب سرد سیر از اول قوس، صنوف هفتم تا دوازدهم مکاتب سرد سیر از ۱۵ قوس، اما درمناطق نهایت سرد سیر صنوف اول تا دوازدهم از اول قوس رخصت می باشند.

در خبرنامه تذکر رفته که امتحانات نهایی در شروع سال تعلیمی ۱۴۰۰ آغاز می‌گردد. وزارت معارف می گوید که تمام مکاتب عمومی اعم از دولتی و خصوصی، مدارس دینی، دارالحفاظها، تابع هدایات فوق بوده و قابل اجرا می‌باشد.

## اذربایجان: ارمنیان د نومبر تر ۲۵ وخت ولري چې د نګورنو قره باغ له ګنو سیمو ووځي



اذربایجان منلې چې د نګورنو قره باغ له لانجمنې سیمې څخه د ارمني ځواکونو د وتلو ضرب‌الاجل به غځوي.

د اذربایجان د ولسمشر د بهرنیو چارو سیاسي سلاکار حکمت حاجییوف ویلي چې ارمنیان د نومبر تر ۲۵ وخت ولري چې له دې سیمې ووځي.

د هغې هوکړې په اساس چې د روسیې په منځګړیتوب شوې، ارمنستان تېره ورځ اذربایجان ته د لانجمنو سیمو د تسلیمولو بهیر پیل کړ؛ هغه هوکړه چې د دواړو خواوو ترمنځ د اوو اونیو خونړۍ جګړه یې پای ته ورسوله. په ورته وخت کې د کالجبر د غرنۍ سیمې اوسېدونکو مخکې له مخکې له سیمې څخه ډله‌ییز وتل پیل کړي دي. دا سیمه د ارمني جلاغوښتونکو له لوري کنټرولېده. یو شمېر ارمنیانو ویلي، له دې وېرې چې اذربایجانیان یې مړو ته سپکاوی ونه کړي، قبرونه یې هم ایستلي دي. د چاریکتار کلي اوسېدونکو له وتلو دمخه خپل کورونه سوځولي چې اذربایجانیان پکې ونه اوسېږي.

دا په داسې حال کې ده چې په قره باغ کې د شاوخوا دوو زرو روسي سوله ساتو ځواکونو د مېشت کېدو بهیر دوام لري. دا ماموریت پنځه کلن دی، خو غځول کېدای هم شي. ارمني ځواکونه همداشان له دریو نورو ساحو څخه هم وځي، چې د ۱۹۹۰ ز کلونو له جګړو وروسته یې تر کنټرول لاندې وې.

ارمنستان وړمه ورځ وویل چې د تازه نښتو په ترڅ کې یې له ۲۳۰۰ ډېر پوځیان وژل شوي دي، خو اذربایجان تر اوسه خپله مرګ ژوبله نه ده په ډاګه کړې.

## راپورونه: د بېلاروس لاریونونه پر تاوتریخوالي اوښتي او سلګونه کسان د پولیسو له خوا نیول شوي

د راپورونو له مخې، په بېلاروس د پولیسو او لاریونوالو ترمنځ تازه نښتې شوې او ګڼ لاریونوال د پولیسو له خوا نیول شوي دي.

د دغو راپورونو پر اساس پولیسو په پلازمېنه مېنسک کې د لاریونوالو د شړلو لپاره له اوښکې بهوونکي ګاز او صوتي لاسي بمونو څخه کار اخیستی او لاریونوالو هم پر پولیسو د ډبرو او لرګیو ګوزارونه کړي دي.

اعتراض کوونکي له واکه د الکساندر لوکوشینکا د لېرې کېدو او د انتخاباتو د بیا ترسره کېدو غوښتنه کوي، خو لوکاشینکا وایي چې د هېواد منتخب ولسمشر دی او هېڅکله به هم د اپوزیسیون غوښتنو ته تسلیم نه شي.

پر پلازمېنه مېنسک سربېره، دا لاریونونه د بېلاروس نورو ښارونو ته هم غځېدلي چې په ځینو ځایونو کې په تاوتریخوالي هم اوښتي دي. دغه لاریونونه په اګست کې د ولسمشرۍ له لانجمنو انتخاباتو وروسته چې لوکاشینکا یې ګټونکی اعلان شوی، پیل شوي دي. د لاریونونو له پیله څو معترضان وژل شوي، ګڼ ټپیانو شوي او په زرګونو نور نیول شوي دي. دغه راز د حکومت ډېرى مخالف مشران هم یا نیول شوي او یا هم له هېواده تېښتې ته اړ شوي دي.

## ژوند

## مک‌بک او د عامل سیستم نوې او پرمختللې بڼه



اپل کمپنۍ د یوې پر لیکه غونډې له لارې خپل درې نوې توکي: مک‌بک اېیر، مک‌بک پرو او مک مینې معرفي کړل. د دغو لپټاپونو او کوچني کمپیوټر له معرفي کولو وروسته اپل کمپنۍ د مک‌بک لپټاپونو لپاره د خپل عامل سیستم نوې او پرمختللې بڼه هم معرفي کړه. د مک‌بک لپټاپونو لپاره د اپل کمپنۍ د عامل سیستم دغه نوې بڼه مک‌او اېس بېګ سر (macOS Big Sur) نومول شوې او کاروونکو ته وړاندې شوې ده. د مک او اېس دغه نوې بڼه چې ډېرې نوې ځانګړنې لري، د لومړي ځل لپاره په جون میاشت کې معرفي شوې وه. دې نوې بڼه کې د ډیزاین په برخه کې هم د پام وړ بدلونونه راوستل شوي دي. دا له اوږدې مودې راهیسې مک او اېس کې تر ټولو ستر بدلون دی. د مک او اېس د دې نوې بڼې انسټالول ډېر اسان دي. اپل مېنیو ته ولاړ شئ، بیا System Preference کلېک کړئ او له هغې وروسته Software Update باندې کلېک وکړئ.

## دغه خواړه د سترګو لپاره ګټور دي



تاسې به اورېدلي وي چې ګازرې او نارنج رنګ ته ورته خواړه د سترګو لید زیاتوي او باصري حس له ناروغیو او کمزوریو ژغوري. دا رښتیا ده، ځکه چې دغو خوړو کې بیټا کیروټین (Beta-Carotene) مواد چې ویټامین اې (vitamin A) غونډې دي، شته چې دغو خوړو ته ژېړ رنګ ورکوي او سترګو او دید ته یې ډېر ګټور دي. ډېر نور خواړه هم شته چې لید مو زیاتوي او د باصرې حس له مختلفو ناروغیو ژغوري. ځینې نور خواړه هم د سترګو لپاره ګټور دي، د بېلګې په توګه، شنې پاڼې لرونکي خواړه د لیوتین (Lutein) او ژیزانتین (Zeaxanthin) غوره سرچینه ده. یاد مواد د سترګې شاتنۍ برخه کې د داغ پیدا کېدو کوم چې د ړندېدو اصلي لامل دی، مخنیوی کولو سربېره د سترګو د اوبو ساتنه هم کوي. هګۍ هم ګټورې دي. د هګۍ ژېړ هم پر لیوتین او ژیزانتین لرلو سربېره، ډېره زیاته اندازه زینک (Zinc) لري چې د سترګو شاتنۍ برخه کې د داغ پیدا کېدو مخه نیسي او انسان له ړندېدو ژغوري. ستروس مېوې په زیاته کچه ویټامین سي (Vitamin C) لري، چې انسان له ړندېدو ژغوري او په سترګو کې له موجودو اوبو څخه ساتنه کوي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلی د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتي او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، درې او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنی ستېتمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af | 1515

